# د غنی خان په شاعرۍکښې لفظي موسيقی لنډ جاج
# A Study of Expressional Music in Poetry of Ghani Khan

Abdul Zahir Shahkeeb, Sher Zaman Seemab

**Abstract**

In modern Pashto poetry Ghani Khan is the figure, who has a special style of poetry, musicians, words and thoughts. He expresses the words of heart concisely and smoothly and this feature has given him a special position in the poetry. Beside the meaningful poetry he has considered the speech music and that have made the poetry more interesting. In this article we tried to study the music of words and explore that Khan's poetry is strong regarding the music of words. We used explanatory method of research to study, explore and presented different examples of his words. We discussed the words' music in the poetry of Pashto mordent philosophical poet Ghani Khan's poetry and presented the different samples of his words. It clarifies that Ghani Khan was a great poet who could use the words on the correct way and had full attention to the music of words. Lyric beauty is covered in the words, the art of the speech, presenting the subject and meaning in colorful words, integration of thoughts and emotions and meaning in the words and music of sounds is the combination.

## ۱ لنډيز

په دې ليکنه کښې د پښتو ژبې د معاصر پير د فلسفي شاعر غني خان د شاعرۍ د لفظي اړخ په موسقي باندې خبرې شوي دي او ددۀ د اشعارو د لفظي موسيقي بېلابېلې بېلګې راوړل شوې او دا خبره روښانه شوې ده ، چې غني خان په کلمو يو مسلط شاعر وۀ ، چې د شعر موسيقي ته ئې هم ځانګړےپام اړولے وۀ او په دې پوهېدۀ چې شعر د لفظونو سندريزه وينا ده، د شعر ښکلا په الفاظو کښې نغښتې وي شعر د خبرو هنر دے. په رنګينو الفاظو کښې

د مضمون او معنا وړاندې کول دي او بالاخره شعر د فکر و خیال عاطفي تړون دے . په الفاظو کښې معنا نغښتې او موسیقیت ئې د غړونو یو ګډ اهنګین امتزاج دے .

## ۲ سریزه

غني خان زمونږ په معاصره پښتو شاعرۍ کښې هغه نوم دےچې خپل سبک ، خپل انداز ، خپل کلمات او خپل فکر لري ، د خپل زړهٔ خبرې په خپله خوله کوي ، چې دغه ځانګړنه ئې د ښهٔ شعر مقام ټاکي . د ښهٔ معنائیزشعر تر څنګ ئې د کلام موسیقي ته هم پام کړےدےاو د شعر ناوې ئې د موسیقي په زړهٔ راښکوونکي ګاڼه یا پسول ښکلې کړې ده .

په دې لیکنه کښې مونږ کوښښ کړےچې د غني خان د شاعرۍ موسیقیت تر څیړنې لاندې اونیسو او دا جوته کړو چې د غني خان شاعري د داخلي موسیقي له کبله ډېره غښتلې ده ، هم دا رنګه مونږ کوشش کړےچې په دې لیکنه کښې د غني خان د شاعرۍ ډېرې بېلګې راوړو او د څیړنې د تشریحي میتود په رڼا کښې پرې بحث او څیړنه ترسره کړو .

## ۳ اصله موضوع

د غني خان اشعار بېلابېل اړخونه لري او له هر اړخه پرې پراخه خبرې کېدےشي، هغهٔ د خپل شعر هره کلمه په ډېر مناسب او سم ځاےکښې کارولې او د کلمو په کارونه کښې ئې هم تل ښکلائیز اړخ ته پوره پوره پام لرنه کړې ده او له ځینو غیر شعري کلماتو ئې هم ښکلي شعري کلمات پنځولي او جوړ کړي دي او دا ځکه چې غني خان په کلمو یو مسلط شاعر وهٔ.

د غني خان په باب په یو لیکل شوي اثر کښې مې اولوستل چې: « غني خان شاعر دے، د خپل زړهٔ خبرې په بیباکانه ډول کوي ، که چېرې د دهٔ د شعرونو په جولیز (شکلي ) جوړښت باندې نظر اوکړو ، ددهٔ شاعري د بحر ، ردم ، تشبیه ، استعارې ، قافیې ، ردیف (لفظي او معنوي) صنعتونو نه ډېره استفاده نهٔ ده کړې ، ددهٔ شعرونه باید د یادو توکو په تله اونهٔ تلل شي ، هغه د فکر شاعر دے، د هغهٔ په شاعرۍ کښې د وزن او بحر نه پرېوتې میسرې هم شته او داسې میسرې ئې په شعرونو کښې شته ، چې قافیې او ردیف په کښې نهٔ دي مراعات شوي ، خو دهٔ خپل فکر او نظر په بهتر ډول ټولنې ته وړاندې کړےدےاو لیکوال او محقق باید ددهٔ شعر له معنائیزې زاویې اوګوري ، نهٔ د فزیکي جوړښت له مخې .»[1]

د لیکوال دغه خبرې که سمې دي ، نو اختلاف هم ورسره کېدےشي او هغه دا ؛ چېرته

چې معنا وي نو نظم به هم وي او چې نظم وي، نو صنعتونه به هم وي او موسيقي به هم وي ، شرنګ او ترنګ به هم وي او دا خبرې د غني خان په شاعرۍ کښې ډېرې شته ، دلته پرې د اوږدو خبرو ګنجائش نۀ شته ، ما پرې څو لنډې خبرې کړې دي ـ دا ځکه چې غني خان بايد دشاعرۍ له دې اړخه هم ژور اوڅېړل شي او د هغۀ د شاعرۍ لفظي او معنوي ښکلاوې په معاصرو کاږو اوتلل شي .

څۀ رنګه چې موسيقي د شعري هنر يو په زړۀ پورې او زړۀ راښکوونکےاړخ دے ، نو غني خان هم د خپل کلام موسيقيت او اهنګينې برخې ته خاصه پام لرنه کړې ده .

د شعر موسيقي د شعري هنر يو مهم اړخ دے، چې په بېلابېلو ډولونو ترسره کېږي ، چې د متجانسو کلمو يا د يو ډول او قريب المخرجه اوازونو له محسوسېدونکي منظم يا غير منظم تکرار څخه رامنځ ته کېږي ، موسيقي د شعر ظاهري بڼې ته ځانګړےاهنګ ورکوي او د شعر لوستونکي د يو ډول او پرله پسې تلفظ کېدونکو کلمو له وئيلو او اورېدلو خوند اخلي.

يا ځينې وخت توري او کلمې د يو بل په څنګ کښې سره داسې واقع کېږي ، چې مونږ ئې ترنګ او شرنګ له ليرې احساسوو او دا دشعري هنر لوړ مقام دے، چې شعري کلمې د معنا تر څنګ ښکلےاو زړۀ راښکوونکےاواز هم اولري ، د کلمو او تورو دغه شرنګا په شعر کښې کله کله د بديعي لفظي صنايعو لکه تجنيس ، تکرار، سجعې او نورو په جامه کښې وي او کله کله د اهنګ ، رديف او قافيې په جامه کښې وي ، چې د تورو او کلمو فريکونسي ددې سبب ګرځې،چې په کلام کښې مترنم غږونه اوپنځوي .چې بې موسيقي شعر د بدرنګه ناوې غوندې وي او بې شعره موسيقي د بې ګاڼې ناوې غوندې.

د شعر موسيقي ډېر ډولونه لري، محمد رضا شفيعي کدکني په خپل اثر (موسيقي شعر )کښې د شعر موسيقي په څلورو برخو وېشي : «بيروني ، کناري ، داخلي او معنوي موسيقي » [2] لفظي موسيقي د داخلي موسيقي يوه برخه ده ،چې مونږ ئې دلته په تيوري خبرې نۀ کوؤ ، يوائې د غني خان د شاعرۍ د لفظي موسيقۍ څو نمونې راوړو :

د غني خان د کلياتو (لټون) په لومړي سر کښې دعا لولو ، چې وائي :

سترګو د جانان کښې زما ښکلي جهانونه دي
وادې خله دنيا زه وړےستا د دنيا نۀ يمه
ګوره د فقير کچکول کښې تاج د سکندر دے پروت
زۀ يم د سخيانو د شومانو ګدا نه يمه
زۀ ئې په غرور درنه د مينې په نوم غواړم
زۀ ملنګ بې نيازه ستا د وير واوېلا نۀ يمه
يو د سپوږمۍ څاڅکےدرنه ټيک له د يار غواړمه

زۀ يم د خوبونو د لالونو ګدا نۀ يمه
هغه مستي غواړم چې ئې مرګ نۀ شي وژلے
زۀ دې د غمونو د بېګا او سبا نۀ يمه
او تشه دنيا ګې که دې بخښې نو اے اميره !
ستا شوه ستا دنيا زۀ وړے ستا د دنيا نۀ يم[3]

که مونږ دغه نظم ته د زړۀ په غوږو ځير شو د متضادو ، هم قافيه او هم سجعو کلمو راوړلو او د يو ډول کلمو تکرار په نظم کښې د ښکلا تر څنګ موسيقي هم پنځولې ده ، لکه (سخيانو، شومانو )، (خوبونو، لالونو)، (بېګا، سبا ) چې په خپلو منځونو کښې هم سجعه کلمې دي، د دنيا او ستا د کلمو تکرار او د (ن) او (ر) توريو تکراري شتون د شعر موسيقي پياوړې کړې ده . د غني خان دا نظم هم لولو چې وائي :

مستانه ساقي راشه يو جام جام راوړه
مُسکې شه په خندا شه، يو جام جام راوړه
پياله کېږده شېرينه ، ځواني د ځوانۍ وينه
رنګ رنګ مستي رنګينه ، حسينه نازنينه
مجنون يمه ليلى شه، يو جام جام راوړه
يو ګل يم رژېدلے، يو باغ يم سوځېدلے
يو ساز د ژړا يم ، يو اه د بلبلې
ژوندون شه، زما ساه شه ، يو جام جام راوړه
ګلفامه ساقي راشه، يو جام جام راوړه
يو راګ يمه خاموشه ، نغمه يم فراموشه
ځواني مې په غمه بېله ، مستي راوړه بې هوشه
د درد دارو زما شه ، يو جام جام راوړه
مُسکې شه په خندا شه يو جام جام راوړه
مَست مَست راکړه خوبونه ، چې پټ کړم پرې غمونه
شروع کړه د ژوند تال ته ، نازک د ښېست سُرونه
دلبر شه دلربا شه يو جام جام راوړه
مَستانه ساقي راشه ، يو جام جام راوړه [4]

په پورته نظم کښې غني خان د خپل شعر د کلمو په جادوګرۍ ، تکرار، د متجانسو کېفيتونو په راوړلو ، د سجعو او قافيو په پرله پسې زيرو بم حالت ، په شعر کښې مستو مستو خوبونو د ژوند تال او سُرونه ګرم ساتلي او يوه ژوندۍ موسيقي ئې زېږولې ده،چې مونږ د غني خان د پورته شعر د کلماتو او لفظونو له تلفظ او اورېدو څخه يو ځانګړےښکلائيز کېفيت ، حلاوت او لذت حس کولے شو. د غني خان دا څو نور بېتونه هم لولو:

تور او سپین زما د سترګو، کله تول کله تلَل دي
شپه او ورځ زما نظر دے ورکول دي او مونتل دي
که خندا ده که ژړا ده دا ځیګر مشغولول دي
که وِصال دے که فراق دے خپل سرور ته ګډېدل دي[5]

په پورته بېتونو کښې تول او تَلل اشتقاقي تجنیس دے. ( تور ، سپین ) ، ( شپه ، ورځ) او (وصال ، فراق) متضادې کلمې دي. تَلل ، مونتل، مشغولول او ګډېدل د قافیې کلمې دي او که خندا او ژړا سره له یوې خوا متضادې کلمې دي ، نو له بلې خوا د یوې سجعې کلمې هم دي ، همدا ډول په زیاتو کلمو کښې د (ل) توري تکرار د شعر موسیقی ته پیاوړتیا او قوت بخښلے دے ،چې دې ډول د لفظونو، کلمو او د متضادو کېفیتونو یو ځاے کېدلو د غني خان په دې شعر کښې یو ځانګړے مترنم کېفیت رامنځ ته کړےدے.

هغه شعرونه چې داخلي لفظي موسیقي ئې پیاوړې وي د موسیقي د الو سره هم خپله موسیقي په ښهٔ شان څرګندوي ، د غني خان ډېره شاعري د دې خبرې جوت ثبوت دے، چې د پښتو ژبې پیاوړي هنرمند ښاغلي سردار علي ټکر ئې دغه داخلي موسیقي د موسیقي د فزیکي الو د اوزونو سره غاړه غړی کړې او ټول پښتانه ئې په شوق او مینه سره اوري . حتی له ما څخه یوې خارجي مېرمن چې په پښتو ژبه نهٔ پوهېده خو د غني خان له شعرونو سره ئې مینه درلوده ، غوښتنه اوکړه چې د غني خان هغه شعرونه چې د سردار علي ټکر په اواز کښې دي ورته پیدا کړم .

په لاندې بېتونو کښې (رنګ ، شرنګ ، رنګین ) او ( ناز ، نیاز) د زاید تجنیس د کلمو په راوړلو سره شعر مترنم خاصیت خپل کړےدے:

ړوند به څهٔ قیصه ددې رنګین جهان د رنګ اوکړي
دا نیمې مړې ګوتې به څهٔ ستا د طبعې شرنګ اوکړي
وچې سپېرې شونډې به په څهٔ ناز او نیازا وکړي
دا غمګینې سترګې به په کومه نشه رنګ اوکړي[6]

یا هم دا لاندې څو بېتونه :

بس بنده دے که مجنون دے که مدهوش دے
خرڅوونکے اخیستونکے ددهٔ هوش دے
که جومات کښې بس الله الله دے
مېخانه کښې یو اواز د نوش بنوش دے[7]

په پورته بېتونو کښې (مدهوش ، هوش او نوش ، بنوش ) د زاید تجنیس کلمې دي ، همدا شان (اخیستونکرے، خرڅوونکرے) د یوې سجعې څلور څپیزې کلمې دي ، الله الله تکرار هم ځانګړے ځاے نیولے دے، همدارنګه په مېخانه کښې د نوش بنوش او په جومات کښې د الله الله غږونه د تقابل صنعت جوړوي . چې دې ټولو د شعر پایه خوځنده کړې ده . یا هم دا څو بېتونه لولو :

چې دې وس د بدو نۀ وي ، څۀ به تۀ څۀ به دې ښۀ وي
تو به هله د شرابو چې شراب درته پراتۀ وي
چې بوډا شې خولۀ کړشپه ، بیا توبه توبه د څۀ کې؟
هغه ښۀ د بدو بد وي، د ناکامه چې تۀ ښۀ کې [8]

د غني خان د (شاعري) تر سرلیک لاندې دغه څو بېتونه ګورو چې مترنم کیفیت ئې رامنځ ته کړے دے :

لږ خیال کړه ، لږ تال کړه ، لږ شان د جانان
لږ رنګ کړه ، غورځنګ کړه ، یو اه د ارمان
لږ نور کړه ، لږ نار کړه ، لږ سوز کړه لږ ساز
لږ یار د سپوږمۍ شه د ستورو هم راز
لږ ګوټ د کعبې کښې لږ ګل د شیراز
لږ باغ لږ باغیچه شه لږ تور بیابان
لږ خیال کړه، لږ تال کړه، لږه شان د جانان[9]

په پورته بېتونو کښې (خیال ، تال) ، (شان، جانان)، (رنګ ، غورځنګ) ،( نور ، نار)، ( سوز ،ساز) متجانسې او مسجعې کلمې دي او د ځینو کانسونانټ غږونو تکرار د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده او هم سرے په اسانۍ سره د دغو کلماتو خوځند حالت محسوسولے شي ، بل ځاے غني وائي :

نۀ منم نۀ منم یاره مرګ انجام د هستۍ نۀ دے
خلاصېدل شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نۀ دے
چې ماښام د کومې شپې وي نو د هغې سبا هم وي
چې رڼا وي تیارۀ هم وي ، چې تیارۀ وي رڼا هم وي
چې یو نۀ وي بل هم نۀ وي او که وي نو وي به دواړه
دې دریاب له چېرته شته دے لرې بله یوه غاړه
زر سحره د بهار دي یو ماښام کښې د خزان
شل خُمونه ډک د عطرو یو دانه کښې د ریحان [10]

دې بېتونو ته هم متوجه کېږو :

خوښ مې دي ګلونه ، هم ښکارونه او هم اسونه
خوښ مې نر پښتون دےزۀ راوړےپښتنی یم
زۀ وم په وطن مئېن خو تن جلا وطن کړم
زۀ د سر ګل نۀ شوم هسې زۀ ترې سپېلنےیم [11]

تسمیط چې ځینو شعر پېژندونو د مسجع شعر نوم ورکړے ، هم کله کله د کلام په موسیقي کښې رغنده رول لري ، اوس به د غني خان یو مسجع شعر اولولو او وبه ګورو چې ددۀ د شعر موسیقي ئې څۀ ډول پیاوړې کړې ده ، غني وائي :

یو سرےک د ګلستان ، بله لاره د زندان
مینځ کښې زۀ ولاړ حېران ، چې په دې ځم که په دې
یو خوا عېش عشرت سېلونه، بل خوا کندې کندې غرونه
دې خوا ساز اخوا ویرونه، اوس په دې ځم که په دې
دلته ښکلې مسکی شونډې، هلته غم فریاد د کونډې
دا ځاےخوب هغه ځاےمنډې ، اوس په دې ځم که په دې
یو دےډنډ پټ په شین رنګ ، بل دےسیند وهي غورځنګ
دې خوا قبر اخوا جنګ ، اوس په دې ځم که په دې
یو خوا سوےمخ د سکور ، بلخوا خاندي سوځي اور
اخوا تاج دےخو سرتور ، اوس په دې ځم که په دې
دېخوا ځښې د زړګي وینې ، اخوا سرۀ شراب د مینې
دلته ړوند ئې هلته وینې ، اوس په دې ځم که په دې[12]

په پورته تسمیط یا مسجع شعر کښې ددې ترڅنګ چې هر بېت ئې د سجعې خپلې کلمې (ګلستان ، زندان ، حېران - سیلونه ، غرونه ، ویرونه - شونډې کونډې ، منډې - رنګ ، غورځنګ ، جنګ - سکور ، اور ، سرتور - وینې ، مینې ، وینې ) لري که اوګورو یو زیروبم اواز هم زېږوي ، دغه زیروبم اواز خپله د موسیقي خوځنده ساز دے. هم دا شان په پورته شعر کښې بې قافیې ردیف هم راغلےدے .

په پخوانیو شعرونو کښې تل کوښښ کېدۀ چې قافیه له ردیف مخکې حتمي راشي اما په معاصر شعر کښې کله کله ردیف د قافیې ځاے نیسي او په ځانګړي ډول د شعر د موسیقی دنده پر غاړه اخلي ، چې د غني خان پورته شعر ئې ښه بېلګه ده او که په بله وېنا ئې اوواېو قافیه هم د مترنمو لفظونو له پاره یو پیکر دے ، چې د غني خان د نظم رخت وۀ زېور ئې

تشکیل کړے،قافیه د نظم په بهرنۍ موسیقي کښې هم مرسته کوي او هغه جوړوي. قافیه د توریو په اهنګین اوډون رامنځته کېږي، دغه اوډون یوه ځانګړې موسیقي رامنځته کوي. نو ځکه خو نیما یو شیج (( بې قافیې شعر بې هډوکیو سړے بولي))[13] هم دا شان قافیه پر خپل ځانګړي ردم یا موسیقۍ دشاعر تخئیل راټولوي او په لفظونوکښې ئې رانغاړي،د تودور دو بانویل Theodorde Banville په وېنا (( قافیه هغه زرین مېخ دے چې د شاعرانو تخېلات تثبیتوي)) [14]

له قافیې سره سره تکرار صنعت چې په شعر کښې د موسیقیت په رامنځته کولو کښې مهمه ونډه اخلي او په بېلابېلو ډولونو تر سره کېږي لکه : جناس ، تشابه الاطراف ، ردالصدر علی العجز ، ردالعجز علی الصدر ، التزام یا اعنات ، او داسې نور ډولونه چې په ټوله کښې ئې په تکرار سره یادولےشو، د شعر په داخلي موسیقۍ کښې کارنده ونډه اخلي . د غني خان لاندې بېت ته متوجه کېږو ، چې دغه ادبي جوړښتونه ئې په کښې غاړه غړۍ کړي دي :

مینه حُسن جوړ کړي بیا پرې شي مئینه مینه
مینه لېونی ده، لېونۍ ده مینه مینه [15]

په پورته شعر کښې چې د مینې تر سرلیک لاندې لیکل شوے، ردالعجز علی اصدر، تجنیس او تکرار غبرګ راغلي، چې د مینې د کلمې ډېر تکرار او بیا د شعر په صدر او عجز کښې ځانګړې موسیقي زېږولې ، چې د شعري موسیقي یوه ښه بېلګه ئې بللےشو او دغه ادبي صنعتونه هله ښکلي او حَسین وي چې د موسیقي او ښکلا په پنځونه کښې مرسته اوکړي .

په لاندې بېتونو کښې هم سجعو او متجانسو کلمو یو ډول مترنم خاصېت رامنځ ته کړے:

امان چې لاړ امان لاړه ، د امان له ملکه
روک شو چې روکول ئې دښمنان له ملکه
زړۀ ئې خوږېږي نۀ صبرېږي نۀ صبرېږي خلقه
په شا شا ګوري ځي امان په ډېر ارمان له ملکه [16]

اوس هم د ردالعجز علی الصدر یو بل بېت لولو چې د شعر په موسیقي کښې ئې ونډه اخیستې ، او هغه د (څومره) کلمه ده چې د بېت په صدر، عجز او رکن کښې تکرار شوےدے.

څومره مینه مستي درکړم ادب څومره ؟
څومره تا دلدار جانان کړمه ، رب څومره ؟ [17]

په دې لاندې بېتونو کښې هم د تکرار صنعت په یو بل ډول ګورو :

زلفې دې کړې ول ول ول
ټیک دې کړو پرې وربل وربل
زۀ دې کړمه جل بل جل بل
زلفې دې کړې ول ول ول [18]

تکرار د هنر په ښکلا پېژندنه کښې له بنسټیزو مسایلو یو دے. د ستورو سترګکونه او د مرغانو د وزرونو حرکات د تکرار او تناوب په برکت ښکلي دي ، نا موزون او نا موسیقائي اوازونه چې د تکرار خواږۀ نۀ لري،د روح د تکلیف سبب ګېږي ، حال دا چې د باران متناوبآً تکرارېدونکي څاڅکي روح ته ارام وربخښي ، تکرار په نوي او زاړۀ شعر کښې مهمه ونډه لرلې او اصولاً باید د شعر په سبکي ځانګړنو کښې اوشمېرل شي . [19]

په شعر کښې د یوې سجعې کلمې هم د موسیقي په پیاوړتیا کښې مرسته کوي ، لکه د غني خان په لاندې بېت کښې د جانان ، جهان ، قربان او غلمان کلمو چې دغه کېفیت رامنځ ته کړےدے:

هغه جانان چې کل جهان ترې قربان
چې هر جنت حورې غِلمان ترې قربان[20]

یا په لاندې بېتونو کښې ګورو چې د یوې سجعې کلمو ئې په شعر کښې څۀ ډول موسیقي زېږولې ده :

هر زلمے یوسف وۀ او همه جهان کنعان وۀ
لاس کښې مې نیولےد بادشاه د لاس فرمان وۀ [21]

ګل ئې د ایران دلبره، سیب که د شېراز ئې ؟
سترګې مهرباني وړې شونډې دلنوازې [22]

، لومړي بېت کښې (جهان ، کنعان ، فرمان ) او په دوهم بېت کښې (سترګې،مهرباني،وړې،شونډې،دلنوازې) پرلپسې راغلو کلمو ځانګړےمترنم کېفیت رامنځ ته کړےدے.
لاندې شعرونه هم لولو :

هم د وترو ګوټ کښې خو مهینه چادرۍ کښې
فرق دې ونه که دلدارۍ او نوکرۍ کښې
خداےګو چې بیلئ ئې د مینو کچرۍ کښې
نوےنوےجال په دې جنجال د مشرۍ کښې [23]

په پورته بېتونو کښې (چادرئ ، دلدارئ ، نوکرئ ، کچرئ ، مشرئ ) او (جال ، جنجال ) د يوې سجعې کلمې دي . په لاندې بېت کښې په ډېرو کلمو کښې د(س) د توري موجوديت يو ځانګړےمترنم حالت رامنځ ته کړےدے، غني خان وائي :

چې ئې عمر په صحرا وي د خزان نه ګيله نۀ کا
دومره وسومه غمونو چې اوس سوےمې سينه نۀ کا[24]

يا دا بېت چې وائي :

دا چې ستا سترګو تصوير د مستئ واغوست
نو زه جام شومه خيام شوم مست نسکور شوم [25]

يا هم په دې لاندې بېتونو کښې د (ن) د توري ډېر تکرار دغه کېفيت رامنځ ته کړےدے:

بنده نوي رنګ محل کښې نوےنوےجانان غواړي
بيابان کښې سرۀ ګلونه ، توره شپه چراغان غواړي
تل تيارۀ کښې دےروکېږي ، تل رڼا کښې هم ړندېږي
دے بچےد تغېر دے، يو حالت کښې نۀ ټينګېږي [26]

ترصيع هم د بديعي صنايعو په ډله کښې راځي او د سجعې يو ډول ئې بولي ، چې د شعر په موسيقي کښې ونډه اخلي ، د غني خان لاندې بېتونو ته متوجه کېږو :

اې د ګلابونو د ګلونو د خندا ربه
اې د اميدونو د خوبونو د رڼا ربه
اےد ماښامونو د جامونو د سرور ربه
پټ اشنا مئين جانان او نور ، او نور او نور ربه [27]

په لاندې بېت کښې هم د ترصيع ادبي صنعت ګورو :

نن انسان شو د انسان د وينو تږے
نن مجنون شو د جانان د وينو تږے[28]

رديف هم کله کله د موسيقي په پنځولو کښې ځانګړےرول لري ، خو دغه رول هلته په سمه توګه تر سره کولےشي ، چې رديف خوځنده وي ، دلته د غني خان د يو بېت رديف ته متوجه کېږو :

د مستۍ جینۍ نښه ده بنګړي ډېر ماتوي
چې لړه نوره مسته شي زړګي ډېر ماتوي [29]

په دغه بیت کښې (ډېر ماتوي) د شعر ردیف دےاو (بنګړي ، زړګي) ئې د قافيې کلمې دي او د(مستې، مسته)اشتقاقي کلمو راوړلو هم خپل ځاےنيولےدےاو د شعر موسیقي ئې پیاوړې کړې ده . په لاندې بېت کښې هم د اشتقاق صنعت ګورو:

پروا ئې غني نۀ کړي که ئې سپک تلي که درونډ
تف! څۀ به دا جهان وي او څۀ تول ددې جهان [30]

په پورته بېت کښې (تلي او تول) اشتقاقي کلمې دي ، چې په شعر کښې ئې له ناشعري کلمې (تف !) څخه هم شعري کلمه جوړه کړې ده او ځانګړې ښکلا او موسیقي ئې رامنځ ته کړې ده .
یا په دې بېت کښې د اشتقاق صنعت ګورو :

په خندا کښې مې ژړا ده په خفه سترګو خندېږم
وایه وایه لېونیه ! ولې ژاړې چې ژړېږم[31]

په پورته بېت کښې (ژړا ، ژاړې ، ژړېږم) د اشتقاق کلمې دي ، چې په شعر کښې ئې یو ډول موسیقیت پیدا کړے دے. همدا ډول په خفه سترګو خندل ئې یو بل متضاد کېفیت هم رامنځ ته کړےاو د شعر ښکلائیز اړخ ئې تقویه کړےدے.
په لاندې بېتونو کښې د هم سجعو او هم وزنو کلمو او د ځینو کلمو تکرار شعر ته ځانګړې موسیقي ورکړې چې لولو ئې :

چې مستي وےاو ځواني وےاو جانان وےاو ډک جام
ډېر ګلونه لړ یاران او غمګین غوندې ماښام
عشق څۀ اور وي او څۀ نور وي زړۀ لمبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زۀ ورځارکړم جنتونه ستا تمام[32]

بنده نوي رنګ محل کښې نوےنوےجانان غواړي
بیابان کښې سرۀ ګلونه ، توره شپه چراغان غواړي
تل تیارۀ کښې دے روکېږي ، تل رڼا کښې هم ړندېږي
دا بچےد تغیر دےیو حالت کښې نۀ ټینګېږي [33]

یا دا بېتونه چې غني وائي :

زهٔ یم زهٔ یم رنګ سرور او شرنګار زهٔ یم
د جانان سترګو کښې مړاوې خمار زهٔ یم [34]

په پورته بېت کښې د تکرار او ردالعجز علی الصدر د صنعتونو تر څنګ د (ر) د توري ډېر تکرار موسیقي زېږولې ده . د غني خان یو بل نظم چې د متجانسو او هم سجعو کلمو راوړل او د (ګ) کانسونېنټ غږ په کښې د شعر موسیقي پیاوړې کړې ده ، لولو:

د هشنغر مغرور ملنګ
په نوم غني په جېب لېنګ
سترګې د پیش خړ ئې رنګ
مدام لیکي اړنګ دوړنګ
د خپل جهانه ، ځانه تنګ
تل اوسي د ځان سره په جنګ
د هشنغر مغرور ملنګ [35]

په لاندې بېت کښې د تکرار ادبي هنري صنعت ګورو :

حسن حسن لټومه ، که په غر وي که په سمه
زهٔ په مینه مینه پا یم ،بې د مینې مرمه مرمه [36]

په دې بېتونو کښې د یوې سجعې کلمې راغلې د ي :

او فطرت حېران خفه شو چې ددې خاورې مجبور ئې
ځان جوړوونکے، ورانوونکے، ځان لیدونکےسر پېدا شو [37]

په لاندې نظم کښې تکرار، سجعې ، تجنیس د شعر لفظي موسیقي پیاوړې کړې ده :

بس دےبس که لېونیه ، دا د ولې ولې باب
جام که ډک سترګې که پټې ، ټنګوه دې خوږ رباب
ورنزدې شه ورنزدې شه ، چې د یار شونډې شکرې
رَو په مینه مینه اوکړې ، دوه خوږې خوږې خبرې
تورې سترګې ئې بلېږي لکه شمعې د معراج
دغه سرو سترګو کښې اور دے، اور دےهم د اور علاج
په سرو ګوتو کښې جنت دےکه دوزخ دےکه بقا ده
اوئې سوځوه سوځه خانده خانده ، ژاړه ژاړه دا دنیا ده [38]

## ٤ پایله

کلاسیکو شعر پېژندونکو شعر او نظم له وزن او اهنګ سره تړلے وۀ او موزون کلام به ئې بالۀ، خو اوسنیوشعر پېژندونکو د شعر د اهنګ او موسیقي بحث پراخ کړےدے او تر ظاهري وزن او اهنګ ور هاخوا ئې په کښې کناري موسیقي ، داخلي موسیقي او معنوي موسیقي هم شامله ده . مونږ په خپله دې لیکنه کښې د غني خان د شعر په داخلي موسیقي خبرې اوکړې او دا مو څېړلې ده چې غني خان د خپل شعر داخلي موسیقي ته څومره متوجه وۀ چې په پایله کښې دا وئیلےشو چې د پښتو ژبې د معاصر شعري بهیر دغه ځلانده ستوري، چې د ښۀ شعر په روح پوهېدۀ ، په دې هم پوهېدۀ چې ښه شاعري څنګه وي ، دشعر د ښکلا او زړۀ راښکون نخښې کومې دي او خپل شعر څنګه د هنر لوړې پوړۍ ته اورسوي. د غني خان لټون (کلیات) په سلګونو داسې بېلګې لري چې د شعر د هنري اړخ ښه ترجماني کولےشي ، د غني د شعر نور هنري اړخونه هم ډېر زیات دي چې دلته ئې په ټولو خبرې نۀ دي شوې ، یوائې د هغۀ د شاعرۍ په داخلي موسیقي لنډ بحث شوے.

## حوالې


[۱] محمد اکبر کرګر، غني د شکو په محل کې، د سید اصغر هاشمي سریزه، دویم چاپ، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال، ٦ مخ .

[۲] شفیعی کدکنی، محمدرضا (1373) موسیقی شعر، چاپ چهارم، تهران، آگاه ۳۹۱ – ۳۹۳ مخونه

[۳] غني خان، لټون (کلیات) د محمد زبېر حسرت په زیار، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبر بازار ،جدون پرنټینګ پرېس، پېښور، ۲۰۰۵ م کال ،۲ مخ .

[٤] همدغه، ۷۰۳ – ۷۰٤ مخونه .

[٥] همدغه، ۳٦٦ مخ .

[٦] همدغه، ۷۹ مخ .

[۷] همدغه، ٥۰۹ مخ .

[۸] همدغه، ۷۲۳ مخ .

[۹] همدغه، ٥۷٤ مخ .

[۱۰] همدغه، ۷۰۰ مخ .

[۱۱] همدغه، ۲٤٦ مخ .

[۱۲] همدغه، ۵۷۵ مخ .

[۱۳] شفیعی کدکنی، محمدرضا (73)موسیقی شعر، ۸۲ مخ .

[۱٤] همدغه، ۳۰۰ مخ .

[۱۵] غني خان، لټون ٦٤۵ مخ .

[۱٦] همدغه، ۲۹ مخ .

[۱۷] همدغه، ۵۱۵ مخ .

[۱۸] همدغه، ۲٦ مخ .

[۱۹] داکتر سیروس شمیسا، نگاهی تازه به بدیع، ۸۹ مخ .

[۲۰] غني خان، لټون، ۷ مخ .

[۲۱] همدغه، ۱۷ مخ .

[۲۲] همدغه، ۱۹ مخ .

[۲۳] همدغه، ٦۹ مخ .

[۲٤] همدغه، ۱۳ مخ .

[۲۵] همدغه، ۳۲ مخ .

[۲٦] همدغه، ۲۲۰ مخ .

[۲۷] همدغه، ۷۸ مخ .

[۲۸] همدغه، ۵۳۱ مخ .

[۲۹] همدغه، ۸۳ مخ .

[۳۰] همدغه، ۸٦ مخ .

[۳۱] همدغه، ٤۹۷ مخ .

[۳۲] همدغه، ۲۱۹ مخ .

[٣٣] همدغه، ٢٢٠ مخ .

[٣٤] همدغه، ٢٤٣ مخ .

[٣٥] همدغه، ٢٧٩ مخ .

[٣٦] همدغه، ٣٢٤ مخ .

[٣٧] همدغه، ٣٢٨ مخ .

[٣٨] همدغه، ٥٠٣- ٥٠٤ مخونه .